مطبوعاتي اعلامیه

**﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾**

**له مومنانو سره د هغوی دښمني له دې امله وه، چې پر عزیز او حمید الله یې ایمان راوړی و**



د بنګله‌دېش خلک په دې پوهیږي، چې د حسینې له خاین حکومت څخه د خلاصون یوازینی لاره د حزب التحریر تر قیادت لاندې د خلافت تاسیسول دي او د فوځ له مخلصو افسرانو څخه غوښتنه کوي، چې دې موخې ته د رسېدلو لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړي. له همدې امله د حسینې وحشي حکومت د خلافت پر پلویانو پسې په ډول ډول لارو را اخیستې، پر خپلو خاینو هڅو، ظلم او غلطو پروپاګنداوو سربېره اوس دا غلام حکومت غواړي، چې د محکمې له لوري د حزب التحریر پر غړو باندې غیر عادلانه حکومنه صادر کړي. تېره دوشنبې، د ۲۰۱۹، د جنوري په ۲۱ مه، د حسینې ظالم حکومت د چپینوببګونج ولسولی محکمې ته امر کړی، چې د غاښونو تګړه ډاکټر عمر فاروق فلوک ته، چې د حزب التحریر یو فعال مخلص غړی دی، د ۱۰ کاله بند حکم صادر کړي. نوموړی درې کاله مخکې یوازې له دې امله په ناحقه سره ونیول شو، چې خلک یې اسلامي نظام (خلافت) ته رابلل؛ هغه نظام ته چې مبدا یې د نړۍ د رب (الله سبحانه وتعالی) له لوري ټاکل شوې. په دې اړه الله سبحانه وتعالی د فصلت سورت په ۳۳ ام آیت کې فرمایي:

**﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلاً مِّمَّن دَعَا إِلَى اللَّهِ وَعَمِلَ صَالِحاً وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ الْمُسْلِمِينَ﴾** [فصلت:۳۳]

***ژباړه:*** *د هغو چا تر خبرو څخه به ښه خبره د بل چا وي، چې د الله (سبحانه وتعالی) لوري ته بلنه او نېک عمل کوي او وایي چې زه مسلمان یم.*

یوازې د اسلام او خلافت په اړه د څو پاڼو او کتابونو درلودل، نه کوم جرم بلل کېدی شي او نه کوم ترهګریز عمل. دا هم ښه څرګنده ده چې حرب التحریر د تاوتریخوالي سازمان نه دی. له دې سره سره، د ترهګرۍ ضد تور قانون کې یې د نوموړي پر وړاندې دوسیه جوړه کړه او د حکومت له لوري محکمې ته د هغه حکم صادرولو امر ورکړل شو، چې پخوا ټاکل شوی و. حزب التحریر دغه غیر عادلانه پرېکړه په سختو ټکو غندي او د الله سبحانه وتعالی د دغه بې ګناه بنده د ژر خوشي کولو غوښتنه کوي.

ظالمه حسینه چې کفري امپریالیستانو یې ملاتړ کوي، باید په دې پوه شي چې د راتلونکي خلافت او د هغه پر پلویانو د دې د ظلم یوازې لس کاله کیږي، په داسې حال کې چې په ۱۹۵۳ کې د حزب التحریر له تاسس څخه راهیسې، چې له ۶۰ کلونو څخه زیات وخت کیږي، چې د حزب التحریر غړي له ظلم، نیولو، محکومولو او پروپاګندو سره مخ دي. د کفري امپاریالیستانو او د هغوی

له غلامو حاکمانو سره د سیاسي مبارزې په ډګر کې او پر هغوی د بریالیتوب څخه وروسته به د راشده خلافت د بیا تاسس انتظار پای و مومي ان شاءالله. د حزب التحریر غړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم له تګلارې څخه په ګټې اخیستنې سره کار کوي؛ هغه ډول لکه څرنګه، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحاب رضی الله تعالی عنهما د ظلم پر وړاندې نه یوازې مقاومت کاوه، بلکې د دوی د ایمان یې نور هم پسې پیاوړی کاوه او دوی د الله سبحانه وتعالی له لورې، پر بریالیتوب ډاډمن وو. خاینه حسینه باید پوه شي، چې د حزب التحریر پر غړو د دې ظلم یوازې د دوی عزم او ایمان پیاوړی کوي او دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر زیري او د الله سبحانه وتعالی پر وعده ټینګ باور لري، چې وايي: «ثم تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ» له هغه وروسته به بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره خلافت رامنځته شي. (مسند احمد)

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾** [نور:۵۵]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی له تاسو څخه له هغو کسانو سره، چې ایمان راوړي او نېک عملونه کوي، وعده کړې چې هغوی به پر ځمکه، هغه شان خلیفه ګان وګرځوي، لکه له دوی څخه مخکې تېر شوي خلک یې چې ګرځولي وو. د دوی لپاره به هغه دین پر محکمو بنسټونو ودروي، چې الله تعالی ورته خوښ کړی دی او د هغو د وېرې (اوسنی) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او له ما سره دې کوم شی نه شریکوي. څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همدا کسان فاسقان دي.*

**د حزب التحریر- ولایه بنګله‌دېش مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق، جمادي الاولی ۱۷مه**

**۲۰۱۹، د جنوري ۲۳مه، دوشنبه**

**ګڼه: ۱۴۴۰/۱۰**